بر ميگرديم به اصل موضوع كه ترفند بي طرف تنها حيله، سياسي بوده وبامزاياي اسلام وروح جهاد منافات دارد ، خصوصاً ترفنديرا كه روس وامريكا درپيش گرفته اند : نه ازنظر اسلام جايز بوده ؛ ونه ازنظر سياست وعرف وعادات مردم جهان قبول است ، بيطرف هائيكه به اصطلاح بيطرف معرفي شده اند ويا مي شوند : چون صدراعظم رژيم پوشالي كابل ومانند آن ؛ ويا ظاهرشاه وامثال او ؛ هرگز بيطرف نبوده وملت ومجاهدين ما آنها را طرفدار روس وكفار مي دانند ، همچنان غرب زده ها وراحت طلب ها بايد درك نمايند كه خواب بيطرفي را نبينند وخيال رسيدن به قدرت را نداشته باشند ، وملت ومردم ما به اين آقايونيكه درمدت چهارده سال جهاد حتي نام از جهاد نبرده اند ؛ نيازي ندارند ، چون آنها طرفدار شرق وغرب بوده واسلام ومجاهدين درمقابل انها قرارداشته وازبازپرس نجات نخواهند يافت .

وقتي كلمه، بي طرف را مي شنوم درذهنم همان شكل هندسي (مثلث متساوي الاضلاع) خطور مي كند ؛ يعني يك طرف مجاهدين ، يك جانب نجيب وپيروان او ، يك جهت به اصطلاح روس وامريكا بي طرف ها ، اما اين اولين قضيه، فرضيه ازنوع خود ميباشد كه روس وامريكا مي خواهند آنرا در افغانستان به اجراء بگذارند ! درتعمير هاي محسوس وعملي معماران بصورت عموم ازخشت هاي چهار كنج استفاده مي كنند نميدانم روس وامريكا ازكدام قماش اند كه درتعمير هاي نظري وعلمي ازخشت هاي سه كنج استفاده مي جويند ؟! شايد منظور شان چپه كردن خانه بر سر صاحبان آن باشد !! يا اينكه يك خشت سه كنج ديگر امريكا وروسيه وباقي نول نيدخل بشوند ، وتعمير كج بنياد افغانستان را به سر برسانند كه در تاريخ نظيرش راكس نديده واولين طرز ساختن حكومت درجهان باشد !

اما آنها بايد بدانند كه درقضيه، افغانستان هيچ كس بي طرف نبوده وقبولاندن بيطرف هائيكه درقابريكه، بيطرف سازي روس وامريكا ساخته شده باشند ، بالاي ملت افغانستان ونشاندن شان بر گرده، ملت قهرمان ماماداخله، آشكار در امور داخلي ما بوده ، ومجاهدين تحمل آنرا نخواهند داشت ، وجوابش راقسمي خواهند داد كه به انگليس ها وروسها داده اند وبه اين بي طرف هاي ماشيني احتياجي ندارند ، وآنهائيكه ازبي طرفهاي ماشيني دفاع مي كنند در حقيقت تحكم بالطاغوت راقبول نموده وبايد نام شانرا فراكسيون قدرت خواهي بگذارند ، وملت مسلمان ما را ازين زياد فريب ندهند ، وما روس وامريكا را طاغوت مي دانيم وبه فيصله آنها راضي نبوده وآنرا قبول نخواهيم كرد وتاقيامت جهاد ادامه دارد ، وجز رضاي خداوند متعال وپيروزي اسلام بركفر هدفي نداريم ومكر وحيله وترفند روس وامريكا درما كارگرنيست .

حل اسلامی ...

آن بايد دفاع كند و نگذارد كه دست اجانب بارديگر درين كشور دراز شود وتحت پوشش حل سياسي مارا ازحل اسلامي وتشكيل حكومت اسلامي بازدارد ؛

واما در رابطه با پذيرفتن صلح كه اسلام دين تسامح ورحمت است بايد گفت صلحيكه به مصلحت اسلام و مجاهدين باشد وازطرف قدرت هاي اجنبي نباشد قابل قبول است اما صلحيكه ظاهرش شهد و باطنش زهر كشنده باشد هيچ عاقلي فهميده آن جام زهر را سر نمي كشد اين نشست كه نشست ظالم ومظلوم ونشست جانب قاتل وجانب مقتول است با اساسات اسلام منافات كلي دارد ازجانب ديگر ازكفر هيچ انتظارخير را نبايد داشت ونه هرقدرت غيرمسلمان كاري رابه خير ومصلحت مسلمين انجام ميدهد ، زيراكه قرآن عمق خصلت انهارا بصراحت بر داشته است چنانكه ميفرمايد : هرگز راضي نخواهند شد از تويهود و تصاري تازمانيكه پيروي ازفرامين اديان آنها نكني ، بنابراين نبايد فريب خورد ونبايد به گفته هاي كفر اعتماد داشت .

« وفاعتبروا يا اولي الابصار »

خلافت که ...

کله چی د اسلامی خلافت نوم اخیستل کیږی نوځوله هغه نقشه او انځور د انسان سترگوته درېږی چی راشدینو خلفاؤ رسم کړی ؤ اوپه انفرادی ، اجتماعی ، اقتصادی او سیاسی لحاظ یی دهغو کړنلاره تشکیلوله .

د خلافت په نظام کښی لوړواکمن یوازی الله تعالی اود مسلمانانو زمامدار دهغه خلیفه دی تر څوچی د خدای په بندگانو باندی د خدای په څمکه کښی په داسی شان سره د خدای قوانین تطبیق کړی چی له بل هرچاڅخه دمخه په خپله وریاندی عمل وکړی .

د خلافت په نظام کښی هیڅوك خپل ځان د امارت مقام ته نه کاندیدوی ، ملت په خپله خوښه د قرآن اوسنت په رڼا کښی داسی یوځوك خپل مشرټاکی چی ترټولو زیات اهل ورته ښکاری او ترټولو زیات له خدایه ویریدونکی وی . څوك چی د ملت قاید ټاکل کیږی نه دهغه په ژوند کښی په مادی لحاظ څه توپیر راځی اونه له عامو مسلمانانو څخه لوړیږی .

د خلافت په نظام کښی بیت المال د خدای اود مسلمان ملت یو امانت گڼل کیږی ، زمامداریه کښی په خپل سرڅه تصرف نشی کولای بلکی دهغه تصرف د اسلامی قانون په حدودو کښی دننه وی اوداسی حیثیت لری لکه وصی د یتیم په مال کښی .

په اسلامی خلافت کښی دچا خوله نه تړل کیږی ، هرڅوك چی له حق نه انحراف کوی که هغه په خپله خلیفه وی هم پرهغه انتقاد کیدای شی اودهغه مخه نیول کیدای شی . په دی نظام کښی قضائی قوه دواك اختیارلرونکی وی ، دوخت خلیفه هم محاکمه کیدای شی لکه څنگه چی قاضی شریح حضرت علی (رض) دهغه دخلافت په دورکښی محکمی ته راوغوښت اودهغه پرخلاف یی دیوغیرمسلم په گټه فیصله هم صادره کړه چی امیرالمؤمنین (رض) په ورین تندی ومنله .

په خلافت کښی د هیواد چاری د کتاب اوسنت په رڼا کښی اود اسلامی شوری په مشوری سره پرمخ بیول کیږی خصوصاً داسی چاری چی د مسلمانانو د سرنوشت په ټاکلو پوری اړه لری . چیرته چی شوری خلیفه ته د کتاب اوسنت په رڼا کښی د مشوری ورکولو حق لری هلته شوری دهغه غلطیوته د انتقاد گوته هم نیولای شی اوکه شوری ته څرگنده شی چی خلیفه د اسلام په مطلوب معیار باندی پوره ندی اوخپل مسئولیت د اسلام له غوښتنو سره سم نه ترسره کوی نودهغه د معزولولو حق لری .

په اسلامی نظام کښی د مسلمان خلیفه واجبات دادی چی دخدای احکام اوحدود تطبیق کړی اود بدوچارو مخنیوی وکړی لکه چی الله تعالی د سوره، حج په ٤١ ایت کښی په دی مضمون فرمائی : « داهغه کسان دی چی که موږ په څمکه کښی اقتدار ورپه برخه کړو نولمونځونه به برپاکړی ، زکات به ورکړی ، په نیکیو امراوله بدیونه په منع وکړی .... »

په سوره، صٓ کښی فرمائی په دی مفهوم : « ای داؤده ! موږته په څمکه کښی خلیفه گرځولی یی له دی امله ته د خلکو ترمینځ په حقه حکم وکړه اود نفسی غوښتنو پیروی مه کوه چی هغه به تا د الله له لاری نه واړوی .

په سوره، نورکښی په دی مضمون فرمائی : « الله له صالحو مؤمنانو سره وعده کړی ده چی هغوته په څمکه کښی همغسی خلافت ورکړی لکه چی له دوی نه مخکښی خلکوته یې ورکړی ؤ . د دوی له پاره به د دوی هغه دین مستحکم اوبرقرارکړی چی الله تعالی د دوی له پاره غوره کړی دی اود دوی د ویری اوناکراری موجوده حالت به په امن اوبی غمی بدل کړی ، نو دوی دی زما بندگی وکړی او له ماسره دی بل څوك نه شریکوی .... »

حضرت ماوردی (رح) اوحضرت ابویعلی (رح) د پاسنیو آیتونو په رڼا کښی دمسلمان خلیفه وجائب اومکلفیتونه داسی تشریح کړی دی :

ددین ساتنه اود ښوونی په وسیله دهغه خپرول ، د شرعی قوانینو نافذول اودعدل برقرارول د امنیت ټینگول اوډعیت دسراومال اوآبروساتنه . د شرعی حدودو انفاذ اومجرمانوته سزاورکول ، د پوځ اووسلی انتظام اودځمکی د تمامیت حفاظت . د تیری کوونکو کافرانو پرخلاف جهاد کول . دمالی چارو انتظام اود دولتی شتمنی اوزیرموساتنه . دمعاشونوعادلانه انتظام ، په ملی شتمنیو باندی د امانتدارو څارونکو ټاکل . درعیت لو حالاتونه په مستقیم ډول ځان خبرول .

د خلافت نظام نه مطلقه آمریت دی چی رعیت د خلیفه په وړاندی مسئول وی او خلیفه غیر مسئول واجب الاحترام وی ، نه غربی جمهوریت دی چی بنسټ یی پرافراطی ازادی اوخود سری باندی ایښودل شوی وی ، هرمقتدر چی هرڅه کول غواړی ، دهغه مخه ونه نیول شی اود زمامدار ترټولو لویه وظیفه خلکوته د عیاشیو د زمینی برابرول وی ، نه اشتراکی وحشیانه رژیم چی بنسټ یی له خدای نه پرانکاریاندی ولاړوی ، څومحدود واکمنان هرڅه وکولای شی اونور ټول ملت د بیروحه قالب غوندی دهغو په اراده وچلیږی هیڅوك نه درانی څرگندولو ازادی ولری اونه د انتقاد کولو .

په اسلامی نظام کښی خلیفه مکلفیت لری چی د کتاب اوسنت په رڼا کښی د خلکو د حقوقو ساتنه وکړی که هغه انفرادی وی ، که اجتماعی وی ، که اقتصادی وی ، که سیاسی وی اوکه عرفانی وی او همدارنگه مسئولیت لری چی خلك دهغو واجباتوته متوجه کړی ، د خدای د دین اوخدای د مخلوق په گټه کاروکړی نه د خپلی گټی له پاره اونه داچی دخلافت تردعوی لاندی تجارت وکړی ، دخلکو دینی اوملی نوامیس پامال کړی اوله موجوده اوراتلونکی نسل سره خیانت وکړی .

دترکیې وروستیو عمومي انتخاباتوته یوه ځغلنده کتنه

۱- دغربی نړۍ سیاسی حاکمیت

یادونه : دروانې میلادي میاشتې په ۲۲ نیټه په ترکیه کښې عمومي انتخابات ترسره شول اودهغو په نتیجه کښې د تورگوت اوزال حاکم گوند « مام وطن » ماتې وخوړه اود سلیمان دیمرل گوند « د حقیقت لار » چې یوولس کاله مخکښې د یوې نظامي کودتا په ترځ کښې له قدرت نه گوښه شوي ؤ یوځل بیا نسبي اکثریت ترلاسه کړ . د ترکیې په دغو انتخاباتو کښې یومثبت ټکي دادي چي درفاه اسلامي گوند هم د ۱۷ فیصده رأیو په گټلو سره په غلورمه درجه کښې راغلې دي چي نسبت نورووختونوته زیات اغیزمن اوڅواکمن ښکاري اواکثره مبصرین د مسلمانانو دغه بریالیتوب په ترکیه کښې د اسلامي احياء اغیزه بولي چې په دي وروستیو کښې دزرغونېدو او پراختیدو په حال کښي ده . ددي له پاره چي وکولاي شو د ترکیې په سیاست کښې دغه لوې زوري شي وڅېړو اوپه دغه اسلامي هیواد کښې دغربیانو په اسلامي ضد حرکتونو به پوه شو نوښه داده چي د اتحاد اسلامي اونیزې په دي گڼه کښې په ترکیه کښې دغرب د سیاسي حاکمیت په هکله بحث وکړو او په راتلونکي گڼه کښي د اسلامي حرکت بیا احیاء وڅېړو .

د کمونیزم په له مینځه تگ سره سم اوس امریکا اودهغې انهیوالان په دې فکرکښې دي چې په نړۍ باندې د باداري اودغربي ضدگروهنو دټکولو له پاره یوه داسي لاره چاره پیداکړي چې دهغې په وسیله وکولای شي په درېمه نړۍ کښې د غرب دوستان د اسلامي او آزادۍ غوښتونکو خوځښتونو په مقابل کښې پیاوړي اوتحریك کړي . د امریکا جمهوري غوښتونکي گوند چې د امریکا د تیر حیثیت اود انتخاري کلونو د بیا احیاء د شعارونو په ورکولوسره قدرت ته ورسید ، ډېر ژرېې داسې پالیسي خپله کړه چې دهغې په اساس د درېمې نړۍ د هیوادونو له پاره د « دیموکراتیزه » کولو سیاست غوره کړ اود اسیلو اوارولسي پاڅونونو د انحراف له پاره یې د استبدادي اوبدنامو رژیمونو په ځای « کنټرول شوي دیموکراسي » اوپه اصطلاح ملي حکومتونوته ترجیح ورکړه اوقدرت د انتقال داسې تگلاره یې انتخاب کړه چې د امریکا اهداف په ډیره ښه توکه سرته ورسوي .

ترکیه هم له هغو هیوادونو څخه ده چې همداسې « کنټرول شوي دیموکراسي » پکښې د اجرا په حال کښې ده او همدا لامل دي چې دغه هیواد یې غرب ته ورنږدې کړي اوتل پکښې تکراري ورامې تنداري ته کیښودل کیږي . که چیري په ترکیه کښې د غربي نړۍ سیاسي واکمنۍ ته یو ځغلنده نظر واچوو دا حقیقت به راته روښانه شي چې غربي استعمار په دغه هیواد کښې د اسلامي میراث اوفرهنگ دله مینځه وړلو له پاره خورمره خطرناکې نقشې په کاراچولې اوبیا دغو گوډاگیانو دغه نقشې څنگه عملي کړي دي .

ترټولو رومبي په وروستي نیمه پیړۍ کښې د ترکیې ټولې سیاسي پیښې په دري مشخصو دورو ویشو :

۱- د اتاتورك دواکمنۍ دوران (۱۹۲۳- ۱۹۳۸م)

۲- د سیاسي ولوپلو د اختلافاتو اولانجو پیل اودوام دوران (۱۹۳۸- ۱۹۸۰م) .

۳- د حکومت په اداره کښې د پوځیانو د رول دوران (چې په ۱۹۸۰ م کښې د کنعان اورن په کودتا سره پیل اوتراوسه دوام لري) .

۱- د اتاتورك دواکمنۍ دوران :

د اتاتورك دواکمنۍ دوران کولاي شو د ترکیې په هیواد باندي د غربي ښکیلاك د سیاسي اوفرهنگي نوي واکمنۍ پیلامه وبولو داځکه چې دغه کرغیړن حرکت چې په اصل کښې له بوځانگړي فرهنگي خصوصیت نه برخمن ؤ ددي سبب شو چې د هیواد په دننه کښې داسي پلوول شوي کسان پیداشي چې د اسلام د سیاسي ، فرهنگي ، اقتصادي او اجتماعي مظاهرو دله مینځه وړلو له پاره ملاوتړي اوپه اسلامي ضد اقداماتو لاس پوري کړي . ددغه هدف د عملي کولو له پاره ترټولو دمخه اتاتورك د اسلامي قوانینو اواصولو سره مبارزه پیل کړه اود حجاب ، عربي الفباء اواسلامي تقویم او .... په له مینځه وړلو سره یې د نوي سیاسي نظام په ټینگښت کښې چې دغرب د غوښتني په بنسټ جوړشوي ؤ اغیزمن اقدامات ترسره کړل .

اتاتورك د موجوده فرهنگي خلا د ډکولو اود هیواد د خلکو په عمومي پرگنو کښې د حاکم ذهنیت د زهرجن کولو له پاره دري سیاسي اوفرهنگي چلونې په کار واچولې چې عبارت وې له : « له دین څخه د سیاست د جدایي فلسفې ته مشروعیت ورکول » پان ترکیسم ، له نورواسلامي هیوادونو څخه د ترکیې بیلتون اوپه اروپاپوري دهغه د پیوستون هلې ځلې .

۲- د سیاسي ولوپلو د اختلافاتو دوران :

ترکیه له دوېمې نړیوالې جگړې څخه وروسته په سیاسي ډگر کښې د سیاسي ولو پلو په سختو شخړو اواختلافاتو کښې لتاړشوه اوهرځلې به چې دغه اختلافات د کمالیسم د نظام په مقابل کښې د یو تهدید په څېره کړه نوپوځي مشران به راپورته شول د هیواد د سیاسي حرکت څرخ به یې دهغو په قول خپل اصلي مسیرته هدایت کړ . د ترکیې په کورني سیاست کښې د پوځیانو ډېري غټې لاس وهنې په ۱۹۶۰ میلادي کال کښې دمندرس اوپه ۱۹۷۱ میلادي کال کښې د سلیمان دیمرل پرضد پوځي کودتاگاني وې .

د بهرنې سیاست په ډگرکښې د دوو استعماري هیوادونو فرانسي اوانگلستان د شتون کمزورتیا ددې سبب شوه چې په سیمه کښې یې د یوبل څواکمن رقیب له پاره واټن ، امریکا ، چې د دوېمې نړیوالې جگړې له ورانیو اوزیانونو څخه خوندي پاتې ؤ ، د موجودیت اولاس وهنو ډیره ښه زمینه برابره کړه .

ترکیې په ۱۹۵۲ میلادي کال کښې د شمالي اتلانتیك تړون (ناتو) اوپه ۱۹۵۹ میلادي کال کښې د سنتو د پوځي تړون غړیتوب ترلاسه کړ اوپه دي توگه په سیمه کښې د امریکا د سترو نظامي وگروټو په ټه کښې د غرب له پاره ډېرڅواکمن سنگرشي ...... [illegible]

زمونږ مسلمان ...

دغه راز په بیلو بیلو سطحو کې د مجاهدینو په منځ کې اختلاف اود انسجام نشتوالي د کمزورتیا وېرستراوښکاره ټکي دي چي زمونږ جهاد له پیل څخه تراوسه وورسره مخامخ دي اوپه جرئت سره ویلاي شو چې د افغانستان د اوسني وضعې اساسي عوامل په سیمه ، د افغانستان په داخل او په بین المللي سطح د مجاهدینو ترمنځ اختلافات دي .

باید وویل شي چي د افغانستان په داخل کي له فاجعې ډکه وضع اوپه بهرکي د مهاجرینو دردوونکي شرایط د جهاد له مشرانو څخه دیوه چټك اوقاطع تصمیم د نیولو غوښتنه کوي . دافغانستان کورني وضع د سختي لوېږي ، دامنیت د نشتوالي اودډاورودرملو د نشتوالي له امله د ملیونونو انسانانو ژوند تهدید وي اود افغانستان په بهرکي په ملیونونوخلك دي چي له ځوکلونو راهیسي په بیگانه ملکونو کي په ډیروبدو اوناوړه شرایطو کي ژوند کوي اوترډیرسخت روحي اورواني فشارلاندي ځوریږي .

دافغانستان د قضیې د حل مسأله وېر وخت شو چي د جهاد د مشرانو په منځ کي مطرح ده خوېدي برخه کي کومه عملي نتیجه لاس ته نده راغلې . باید وویل شي چي اوسني شرایط د جهاد وېرنازك اوحساس شرایط دي اودجهاد مشران په خپل خداي باندي له پوره توکل نه پرته له نوروڅخه د مرستي اوکمك دتوقع د نه درلودلو پرته اوداتحاد اوانسجام نه پرته نشي کولاي جهاد په خپله سبخه اوسمه لاره روان کړي اوخپل اصلي هدف اومقصد ته چي هغه په افغانستان کي دیوه سوچه اسلامي نظام ټینگول دي ورسېږي .

ماهیت کتله، ...

وسیله امت اسلامي براي اداي اين وجيبه سترگ اينست كه مسلمانان همه يكدست شوند ويك كتله، عظيم را تشكيل دهند كه پيرو يك عقيده بوده باشند وبه يك شريعت حكم كنند ويك نظام اجتماعي را تشكيل دهند ، وبعد همه بشريت را به چنين نظامي دعوت دهند ، نه اينكه اين كتله خود درآستانه استعمار سرنهد ، ويا نظامي اجتماعي آنرا ازان سوي مرز به اين كتله جلب نمايد .

پس ازهمه اين حرفها ، فرصت آن فرارسيده تا براي فريب خوردگان وبزدلان ، آنهائيكه دين را ازنظام اجتماعي جدا مي سازند ، وآن را چالاكي ديپلوماتيك ، وباهوشياري اجتماعي مي پندارند ، بگوئيم كه نبايد ازارزش اين كلمه، خطر ناك بكاهند ، براي ما فرصت آن فرارسيده است كه براي اينهمه بگوئيم : كه اي بادارن ! نقش شما پايان يافته است ! وما اين واقعيت را به صراحت ووضوح بدون هيچگونه شك وترديد بيان ميداريم كه اسلام همانا اسلام است . نظام حكومت ، ونظام اجتماع ، ونظام جهاني است . ودعوت اسلامي همه اينها را ميخواهد ودر اعلان آن هيچگونه درنگ نمي كند ، وكتله، اسلامي وجود نخواهد يافت مگر آنكه هرعمل مطابق آن عيار نگردد ، وهرهدف بايد صبغه، خدائي داشته باشد ، وكيست بهتر ازخدا از روي صبغه .

ودوستدار آن نيستيم كه باكسي درمجادله افتيم ، كسي بخواهد كه بر اين اساس با ما صلح كند" بفرمايد ، وكسي بخواهد كه براين اساس با ما دشمني ورزد هم بفرمايد .

وخداوند غالب است بر امر خويش ولكن اكثر مردم نميدانند .

داسلامي تحريك دريمه قطعنامه

د افغانستان مؤمن او مجاهد ملت چي په تيرو څه د پاسه دیارلسو(١٣) کلونو کي د روس د تيل شويو نظامونو او بيا پخپله د روسي پرغلگر او بي رحمه لوځ په وړاندي کوم مقاومت ښودلي په تاريخ کي د هغي مثال او ساري کم ليدل کيږي.

موږ پدي وياړو چي د لوي او عظيم خداي په مرسته او کومك او د دي جهاد او بي ساري مقاومت په نتيجه کي روسي سره لوځ ماتي وخوړه. د بو عالم رسوائي سره مات او گوډ بيرته خپل هيواد ته ستون شو.

دا چي د سره لوځ د ويستلو وروسته بيا هم مزدور او گوډاگي رژيم د قدرت په گدي سپور دي او د خپلي بقاء او پاينښت شپي او ورځي تيروي دا د هغه د بيا وړتيا او يا ملي ملاتړ نمايندگي نکوي. بلکه د مزدور نظام څه کم دري کلن پاينښت له يوي خوا د جهادي تنظيمونو د گډي او واحدي جهادي ستراتيژي د نه موجوديت او له بلي خوا زموږ په جهادي او کورنيو چارو کي د استعماري قلدرتونو د پرله پسي لاس وهنو نتيجه ده او س چي د روسي امپراطوري پخپله د سختو ستونزو سره مخامخ ده له يوي خوا د روسي په دننه کي د ازادي غورځنگونه په اوج کي دي او محکوم رياستونه يو پر بل پسي د روسي د اسارت او غلامي څخه خپله ازادي اخلي او هغه وخت لري نه دي چي دا پر ظلم او تيري جوړه شوي امپراطوري تجزيه او ټوټې شي. او له بلي خوا د کمونيزم د غير فطري نظام په نتيجه کي د روسي ويجاړ او ابتر اقتصادي حالت د دي امپراطوري ملا ورماته کړي نو روسانو ته د دي مجال نور نه دي پاته چي د کابل د گوډاگي او مزدور رژيم څخه ملاتړ ته ادامه ورکړي ځکه د ملاتړ ادامه پرته له شکه د روسي پر اوږو دروند بار دي. او دا خو ښکاره خبره ده چي د روسانو ملاتړ نه پرته مزدور رژيم د بقاء يوه ورځ هم نشي تيرولی.

نو ځکه روسان مجبور شول چي هم ځان او هم خپل گوډاگي رژيم ته د خو پوزه جوړه کړي چي د ملگرو ملتونو

د سازمان په مقر نيويارك کي د افغان مجاهدينو يو هيئت ته پيشنهاد وکړ چي روسان حاضر دي د کابل د گوډاگي رژيم د رئيس ډاکتر نجيب د ملاتړ څخه لاس واخلي او د مجاهدينو مشرتابه ته غاړه کيږدي خو پدي شرط چي د مزدور نظام بر حال صدراعظم (چي د دوي په اصطلاح غير گوندي شخص دي) په خپله عهده پاتي شي، او يا دا چي پخواني مخلوع پاچا ظاهرشاه د دولت رياست په غاړه واخلي.

د بلي خوا امريکا غواړي د ملگرو ملتونو د سازمان د طرحي تر چتر او پوښښ لاندي د داسي رژيم د راتگ او استقرار لپاره لاره هوار کړي چي د هغي په ذريعه هم اوس او هم په راتلونکي کي د مجاهدينو د حکومت د اقامي او جوړولو څخه مخنيوي وکړي. حقيقت دادي چي د جهادي تنظيمونو تر منځ د يوي واحدي او گډي جهادي برنامي نشتوالي امريکا ته د دي چانس ورکړي چي خپل استعماري ناولي عزائم په پوره زړورتيا سره پياده کړي او د خپل استعماري قلدرت او منافقانه چال او نيرنگ نه په گټي اخيستلو سره زموږ پر مؤمن او مجاهد ملت يو داسي حکومت تحميل کړي چي له يوي خوا په افغانستان کي د امريکا گټي خوندي وساتي او د بلي خوا د هر اسلامي تحريك او غورځنگ په وړاندي لوي سد او خنډ وارسي.

د ټولونه د تعجب او حيرانتيا وړ خبره خو لا داده چي د داسي حکومت د مشروعيت او قانونيت لپاره د يو گڼ شمير جهادي تنظيمونو موافقه او تائيد هم تر لاسه کړي تر څو په راتلونکي کي د هغوي خوله بنده او د اسلامي حکومت د قيام په گټه هره نعره او اواز په ستوني کي خفه کړي او پيښي او لاس تړلي ئي داسي مزدورو واکدارانو ته وسپاري چي هغوي هر وخت د واشنگټن فرمان ته په غوږ وي او ملي او مذهبي ټول افتخارات د امريکا ترخوښي ځار وي.

پدغسي ظروفو او شرائطو کي د جهاد مشرانو ته په جدي ډول په کار ده چي د ماتي خوړلي دښمن په وړاندي د هر ډول تنازل او تيريدني څخه ډډه وکړي او د دي سر لوړي ملت اوچته شمله نوره هم تيغه وساتي - پري نږدي چي د دي ملت لپاره امريکا او روس حکومت او قيادت وټاکي ځکه د دي خبري معنی به دا وي چي په افغانستان کي د يو مزدور حکومت پر ځای بل مزدور حکومت بيا هم د واشنگټن او مسکو په خوښه راشي.

د همدي کبله موږ د اسلامي تحريك منسوبين د جهاد له مشرانو څخه په کلکه د دي خبري غوښتنه کوو چي اسلامي حکومت قيام ته ستړگي په لاره ارمانجن ملت د يأس او نااميدي سره مخ نکړي او هغه په داسي حکومت عوض نکړي چي هلته د مجاهدينو ارمان تر خاورو لاندي شي او دا مجاهد ملت د خپلو افتخاراتو او وياړونو د تحفظ او ساتلو په منظور جبراً د يو بل تپل شوي جنگ يا کورني جگړي په درشل کي ودروي. چي بيا به د هغي جبران په هيڅ قيمت سره ممکن نوي.

پدي کي هيڅ شك نشته چي د روسانو فعلي وضعه او د مزدور رژيم خراب او ابتر حالت ټول پدي شاهدي ورکوي چي مجاهدين خپل د کلونو کلونو ارمان چي د اسلامي حکومت تأسيسول دي تر لاسه کولي شي خو يواځيني مانع چي د دي ارمان د تحقق په لاره کي ختلي دي هغه د مجاهدينو تر منځ د وحدت او يوي گډي جهادي ستراتيژي نشتوالي دی او بس.

له همدي ځايه موږ د تنظيمونو د مشرانو توجه په دي که دي مطلب ته را اړوو چي زموږ مجاهد او قهرمان ملت دا دومره لوټي او ستري قربانۍ د اسلامي حکومت د داعيي او آرمان په خاطر وړاندي کړيدي. او پدي تعهد د دوي تر څنگ دريدلی دی چي دوي به د اسلامي حکومت په قائمولو سره د دوي آرمان ته د تحقق جامه وراغوندي او په نتيجه کي به په نړۍ کي د يو سر لوړي ملت په توگه د خپل پتمن ژوند په تيرولو پيل کوي. او لکه څنگه چي دي مجاهد ملت د خپل دیارلس نيم کلن جهاد په اوږدو کي هيڅ ډول سازش ته تن ندی ورکړي، له دوي څخه هم په جدي توگه غوښتنه کوي چي خپل ټول اختلافات، شاته وغورځوي. خپلي ذاتي او تنظيمي گټي هيري کړي يو پياوړي واحد صف تشکيل کړي، او جهادي او ملي گټو ته پر نورو هر ډول گټو ترجيح ورکړي.

نو که لدي څخه وروسته بيا هم جهادي مشران رواني او حاکمي وضعي ته تغير نه ورکوي او پدي حساسه او خطيره مرحله کي چي د افغان مجاهد او مؤمن ملت مرگ او ژوند په هغي پوري تړلي دي بي تفاوته پاتي کيږي. او په نتيجه کي خپل مجاهد ملت يو بي طرفه او يا ائتلافي حکومت ته سپاري دا به له يوي خوا د دي مجاهد ملت سره نه هيريدونکي خيانت وي او له بلي خوا به د دیارلس نيم کلن جهاد ټول تر لاسه شوي وياړونه په سمندر لاهو شي او هم به د اسلامي امت د اميدونو سترگي چي د دي جهاد د نتائجو په لور کږي وي د اوښکو پر ځای په وينو ولړل شي.

پدي بناء موږ لاندي پريکړي خپل ملت او نړيوالو ته په ډاگه اعلانوو:

١ - مسکو ته د مجاهدينو د هيئت تلل د مجاهدينو شان او شوکت ته ستره صدمه بولو. ځکه پداسي حال کي چي زموږ جهاد د پوره بري په درشل کي دي د دي ضرورت څه دي چي موږ د خپلي قضيي د حل لپاره د خپل ملت د قاتل او دښمن کور ته ننواتي ورځو!

٢ - د افغانستان د پاره په حکومت او قيادت پخپله د افغانستان مجاهد ملت ټاکي هيڅوك نشي کولاي چي د افغانستان د راتلونکي حکومت په رابطه د روسانو يا بل بهرني ملك سره تصميم ونيسي.

٣ - بي طرفه يا ائتلافي حکومت په شرعي او هم سياسي لحاظ زموږ د مؤمن او مجاهد ملت لپاره د منلو وړ ندی نو په غوڅه توگه ئي ردوو او داسي مقابله [illegible] لکه چي د تيرو کمونستي حکومتونو مقابله مو کړيده.

٤ - د افغانستان د راتلونکي حکومت په هکله بايد څه محدود کسان تصميم ونه نيسي پدي رابطه بايد يوه ستره اسلامي شوري چي د ټول مسلمان ملت اراده تمثيل کړي تصميم و نيسي.

په غزني ولايت کي ٨ تنه گليم جم مليشه دهغوي دقوماندان په گوون په هلاکت ورسيدل

دغزني دولايت نه ميډيا ته په يو رارسيدلي رپوټ کي ويل شوي چي مجاهدينو داکتوبر په (٢٤) نيټه دغزني ولايت دمرکز په لويديځه برخه کي دړژيم پريوستو او پوځي مرکزونو باندي ددرندو وسلو څخه په استفادي سره يو لړ بريالي عمليات ترسره کړل چي دهغه په نتيجه کي دملحد رژيم (٨) تنه دگليم جم په نامه مليشه دهغوي ديو تن قوماندان سره مره ، يوشمير ټپيان اوهم دړژيم دقواؤ يو شمير پوځي ځالي له مينځه وړل شويدي .

دخبر له مخي دکابل رژيم الوتکو له مجاهدينو څخه دغچ اخيستلو په غرض دعلي خيلو او ميرزا خيلو پرکليو سخته بمباري وکړه چي دهغي په اثر دوه ښځي شهيداني ، دري تنه مجاهدين ټپيان او دکليوالو يو شمير کورونه ويجاړ شويدي .

راديــو اروپاي ازاد يک نشريـه جديدي منتشرمي کند

راديوي اروپاي آزاد که بمدت چهل سال تحت هدايت سازمان « سيا » عليه نظام کمونيستي شوروي واروپائي شرقي فعاليت ميکرد به انتشار يك نشريه جديد مبادرت خواهد ورزيد .

سازمان اطلاعات امريکا « سيا » باصدور اطلاعيه ، درواشنگتن اعلام کرد راديوي اروپاي آزاد ازاين هفته مجله جديدي را به زبان مجاري منتشر خواهد کرد .

اين مجله ابتدا باتيراژ (٥٥) هزار نسخه درسراسر مجارستان پخش ميشد وتيراژ آن ظرف سه هفته آينده به يکصد هزار نسخه افزايش خواهد يافت دولت امريکا درنظر دارد ، درآينده نزديك راديوي جديدي بنام راديوي چين آزاد را درچهار چوب راديوي اروپاي آزاد به وجود آورده ودر جهت فروپاشي نظام کمونيستي چين کوشش نمايد .

غربي هيوادونو له خپلو اتباعو نه غوښتي دي چي له زانير څخه ووزي

غربي هيوادونوخپلو اتباعوته امرکړي دي چي د زائير دسياسي بحران په تعقيب د بلواؤ، چوراوچپاول دجوريدو له کبله سمدستي له هغه هيواد څخه ووزي .

د امريکا غږ راديو د رپوټ له مخي فرانسه وايي چي له زائير سره بي مرستي ځنډولي او وروسته له هغه چي له زائير څخه ټول فرانسويان راووزي نوله هغه هيواد څخه به خپل ټول پوځيان راوباسي ، بلجيم خپلو اتباعوته ويلي چي سمدستي دي له زائيرڅخه ووزي . ديلجيم خارجه وزير خبرداري ورکوي چي د زائير وضع يې له کنترول څخه ووزي .

هيچ نوع فشار ومحاصره ...

کمونستها مجاهدين را قبول ندارند ، مجاهدين کمونستها را قبول ندارند بيائيد که ازغرب زده ها وازفراريان جهاد ، وازکسانيکه افغانستان را به کمونستها تسليم کرده اند ازکسانيکه تره کي ها ، اميني ها ، ببرك ها ونجيب هادردامان شان تربيه شده اند حکومت بسازيم . بيائيد که آنها را بياوريم وافغانستان را براي شان تسليم کنيم ، موضوع بحث مذاکره درمسکو همين است ، اين را ايمان واسلام کدام مجاهد قبول کرده ميتواند ، حالا در اروپا وزيران سابقه دربار ظاهرشاه نشسته وريشهاي خود را صبح وبيگاه تراش کرده ، وپتلونها را اوتوکرده که پس مي آيند به کابل وسرچوکي هاي حکومت همان کشور مي نشينند که آنرا مردم غريب وبي چاره آن به قيمت پانزده لك شهيد خود دوباره کمائي کرده است وانها درآنجا نشسته اند ، منتظر چوکي هستند که اگر براي شان گفته شود که چرا به جهاد نمي روند . گويند که اگر ما کشته شويم ، اينده افغانستان راکي اداره ميکند ، اگر ما کشته شويم ، عربي ياد داريم ، انگليسي ياد داريم ، روسي يادداريم ، فرانسوي ياد داريم وپتلون پوشيدن را يادداريم ، نکتائي بستن را يادداريم اگر ماکشته شويم آينده درافغانستان اين کار را کي ميکند به بسيار لهجه بي شرمانه اين حرفها را برزبان مي آرند درآنجا آماده باش نشسته اند تا سر ازنو بازمردم بروند آنهائيراکه نواميس ما را ، عزت ما را ، دين ما را پامال روسها ساخته بود پس همان مردم را بياورند ودرافغانستان حاکم سازند

برادران ! امروز موضوع دردنيا به اين شکل مطرح بحث است که ميگويند بايد مجاهدين يك اداره، را بسازند ، يك حکومتي را بسازند که روس وامريکا بران راضي باشند . روس وامريکا بران قانع باشند وروس وامريکا آنرا قبول کنند ، وآنهائيکه به دين آگاهي دارند چون ميدانند که روسها وامريکائيها تاوقتي به مسلمان راضي نمي شوند تاکه پيروي ازملت آنها رانکنند ، اين حقيقت به نص قرآن ثابت است پس هرحکومت ايکه روس وامريکا ازاو راضي باشند آن حکومت ، حکومت کافر است ، حکومت بي دين است ، حکومت پيرو امريکائيها ميباشد آنها ازما اين تقاضا را دارند که ما بايد باآنهمه قرباني ها که درراه اسلام داده ايم ، يك حکومت کافر را بسازيم تاکه روس وامريکا برآن راضي شوند واعتراف نمايند . خداوند کريم درقرآن کريم مي فرمايد : ترجمه : « و هرگز راضي نمي شود ازتو يهود ونصاري تاکه پيروي ازملت شان رانکني » ، بعد خداوند امرميکند بگو که راه خدا راهي صحيح است هدايت خدا هدايت صحيح است دين خدا دين صحيح است اگر بعد ازين يعني بعد ازعلم که براي تو آمده اگر تو پيروي از خواهشات يهود ونصاري بکني نه دوست ونه کمك کننده را پيدا کرده ميتواني که تورا ازخدانجات داده بتواند .

برادران ! اصل مسئله اين است که ما براي اسلام کار کرديم ودشمنان ما اسلام را خوش ندارند ، ما براي خدا کار کرديم ودشمنان ازخدا متکبر هستند ، مقاومت ، مردانگي ، غيرت ومتانت بکار است ، فرصت کم مانده انشاء الله که کاميابي وپيروزي نصيب مسلمانان خواهد شد .

قوماندانان ومجاهدين عزيز! ممکن بخاطر موقفيکه اين تنظيم درمورد جهاد اتخاذ نموده ، بخاطر دفاعيکه اين تنظيم ازجهاد ميکند بخاطر اينکه اين تنظيم گردن خود را به روس وامريکا نمي نهد ممکن بر اين تنظيم فشار ها ومحاصره هاي اقتصادي وسياسي بيايد ممکن تنگدستي ومشکلات بيايد مگر هوشدارباش که مردانگي ، مروت وغيرت تانراازدست ندهيد ، آگاه باشيد که بنده دنيا ومادبات نشويد ، باخبر باشيد که غلام مصارف وزينت مادي دنيا نشويد ، بامردانگي خط تان را حفظ کنيد ، بامردانگي تابع داري ، وفاداري ومروت تانرا و موقف تنظيم تانرا حفظ کنيد که امروز تنظيم تان الحمد لله يك سنگر ، يك پناه گاه ويك پشتوانه جهاد حقيقي اسلامي درافغانستان است .

برما اگر هرقدر فشارهم بيايد انشاء الله وبه توکل خداوند که اين راه را ترك نخواهيم کرد . اگر به قيمت خون هم تمام شود باين راه ادامه خواهيم داد وازخداوند توفيق ثبات درين راه مي خواهيم .

برادران ! تنظيم ها وگروهاي مختلفيکه تشکيل يافته همه اش بالاخره به دو بخش تقسيم مي شود . يك بخش آن به اهداف ، مقاصد وآرمانهاي جهاد وفادار وپايدار خواهد ماند ومتانت خود را حفظ خواهد کرد وبخش ديگر آن خدا نخواسته لغزيده وپاهاي شان ازراه بيرون خواهد شد ، ازخداوند براي آنها هم هدايت وثبات ميخواهيم . بدي وکجروي هيچ مجاهد را روادار نيستيم اما اين سنت لايتغر خداوندي است که مسلمانها را به همان حاليکه هستند نمي ماند .

وخداوند نمي ماند مسلمانها را به همان حاليکه شما براو هستيد بلکه امتحان وابتلا ميکند آنها را تاکه خبيث وطيب را ازهم جداسازد » .

اين حتماً آمدني است يکتعداد مردم با جهاد است وخواهد بود ، پايدار ووفادار خواهد ماند ويکتعداد آنرا رها خواهد کرد . پيغمبر (ص) يکروز به اصحاب خود ميگفت که درامت هاي پيشين کساني هم بودند که بخاطر خدا ، بخاطر کلمه حق زمين برايش حفر گرديد وبعد اورا درميان حفره مي گذاشت وازفرق وتنش را بر اره دونصف مي کردند ويا اين هم ازدين حق برنمي گشت ، برامت هاي سابقه اين تکاليف زياد آمده است .

برادران ! ثبات ، استقامت ، پايداري بکار است وآخرين سنگرهم نصيب کسانيست که پايداري وثبات نشان دهند .

خداوند وعده کرده است که بندگان مؤمن خود را ياري ونصرت ميدهد دروقتيکه جهاد عام شد همه کس مجاهد شد وقتيکه قريه ها تحت تسلط مجاهدين درآمد همه کس مجاهد شد ، وهمان کسانيکه نمي خواستند ، صداي مجاهد آنرا بيرون کشيد ليکن مجاهد حقيقي آنوقت شناخته مي شود که شاهراه ها بروي مجاهدين بازشود ومين ها ازراه شان برداشته شود ويك حل غير اسلامي ظاهراً زرق وبرقدار بميان بيايد درآنوقت مجاهد حقيقي پيدا خواهي کرد که کدام اشخاص سنگر خود را تاقيام يك حکومت سوچه اسلامي حفظ ميکنند درآنوقت مجاهد حقيقي ازمجاهد غير حقيقي تميز خواهد شد وشناخته خواهد شد .

برادران ! شما مطمئن باشيد اگر روس ، امريکا ، هندو ها ، انگليس ها وتمام حکومت هاي روي زمين دست خود را برضد ما وشما يکي کنند اگر تکيه ما راستي به خدا باشد اگر درتوکل خود به خدا صادق باشيم هيچ چيزازدست شان برنمي آيد بخاطر اينکه قوت متوکل برخدا ازقوت هرطاغوت وازقوت تمام نيروي هاي ما دي زمين بالاتر است .

خداوند به فاميل ها ووابسته گان شهداء اجر وصبر جميل را نصيب بگرداند خداوند دوستان وفرزندان مخلص اين جهاد را در راه حق ثابت قدم و پايدار کند .

(١٠٠٠) داکتــر شور وي به اسرائيل منتقــل شدند

طبق امار جديدي که درمورد وضعيت شغلي مهاجران يهودي شوروي به اسرائيل انتشاريافت طي دوسال اخير بيش از هزار نفر داکتران روسي به اسرائيل منتقل گرديدند .

راديو رژيم صهيونيستي طي خبري ضمن اعلام اين مطلب افزود : تاکنون در حدود ٢٣٠٠ نفرداکتردردوره هاي امادگي قبل ازشروع کاردرسيستم داکتري اسرائيل پذيرفته شده اند .

وزارت صحت ازدولت خواسته است تايك بودجهٔ ٣٠٠ مليون دالري براي استخدام داکتران شوروي که بيش ازبيست سال سابقه‌کار دارند اختصاص يابد .

امريکا براي . . .

جوانب پخش برنامه هاي راديويي به چين تشکيل خواهد داد .

اين کنگره مؤظف است ظرف (١٨٠) روز نتايج بررسي هاي خود را به کنگره اعلام کند . کميسيون ١١ نفري همچنين وظيفه دارد پيشنهادات خود پيرامون مسايل مربوط به پخش برنامه هاي راديويي به کره شمالي وويتنام را ظرف مدت (١٨٠) روز به کنگره تسليم کند .

امريکا قصد دارد با ايجاد راديوي چين آزاد درهدايت سازمان اطلاعات امريکا « سيا » که نقش تعيين کننده ومؤثري در ازهم پاشي نظام کمونيزم در اتحاد جماهير شوروي واروپاي شرقي ايفا نموده پايه ريزي کند .

مجاهدينو دکابل رژيم دقواو يوه حمله دگرديز دجنوب کمر بند دماتولو لپاره په شا وتمبوله

په پيښور کي دپکتيا نمايندگي دگرديز دمجاهدينو ديو راديوئي پيغام په حواله (ميډيا) ته رپوټ ورکړ ، چي دپکتيا ولايت مجاهدينو داکتوبر په ٢٣ نيټه دکابل رژيم د قواؤ يوه تعرضي حمله چي دگرديز دجنوب امنيتي کمربند دماتولو له پاره شوي وه دمتقابلو وزو په اثر په شا تمبولي اوپه زياتي مرگ ژوبلي برسيره دقوي دوژل شوي مشر ډگروال جسد چي تذکره ورسره نه وه مجاهدينو سره پاتي شوي کوم چي نيول شويو عسکرو پيژندلي دي .

درپوټ مطابق دمجاهدينو دذکر شوي مقاومت په نتيجه کي دکمونيست رژيم دقواؤ دري عرادي ټانکونه ، يو دبي ام (١٤) دستگاه ، يو بتريه توپ او ٤ عرادي نظامي موټر دسپرليو سره له مينځه تللي دي رپوټ زياتوي چي مجاهدينو داکتوبر په (٢٢) نيټه دگرديز په لرختيزه دسيدکرم ولسوالي په ناصر کنهو سيمه راکټي حمله کي دکمونيست رژيم دقواؤ څخه يوه پوسته فتح کړي او يو مقدار نظامي مهمات بي ولجه کړي دي .

دخبر ځاي داطلاع مطابق دگرديز په جنوب لويديزه او جنوب ختيزه خوا دښاري کمر بند په سيموکي ددواړو خواؤ ترمينځ جگړه روانه ده .

د رژيم يوجنرال په لښکرگاه کي ووژل شو

په پيښور کي يوه جهادي خبر ځاي ميډيا ته رپوټ ورکړ چي دکابل دکمونيست رژيم دمسلحو قواؤ يو تن جنرال (علاوالدين) داکتوبر په يو ويشتمه نيټه هغه وخت دهلمند ولايت په لشکر گاه ښارکي ووژل شوچي دده دسپرلي موټر ښارته نږدي دپوستو دکتني په وخت دمجاهدينو په يو ايښودلي شوي مين باندي ورختلو .

خبرځاي وويل پدي پيښه کي دعلاوالدين په وژل کيدو برسيره موټر هم بالکل دمينځه تللي او هم ورسره څو تنه محافظين وژل شوي چي مکمل شميريي لاندي معلوم .

دگرديز والي . . .

والي وه د کي ، جي ، بي دخاد شبکي له پاره بي هم کار کولو ، چي پدي منظور په (١٩٩٠) کال په لمړي او اخيره مياشت کي دوه ځلي په پټه دپاکستان دلاهور ښارته دخاد جاسوسي شبکي له پاره تللي اوراغلي وه .

دانور حاصل ديوهم صنفي په قول؛ دکابل پوهنتون دژورناليزم دپوهنځي فارغ او پخواني پرچمي او دخاد غړي وه چي دنجيب سره دنږدي اړيکو په اساس دگرديز والي مقرر شوي وو .

دخبر مطابق حاصل د کي ، جي ، بي په دستور دگرديز دښار سرحد په قبايلي سيموکي دوسلو او پيسو په خوره ولو او بمونو دچولو له پاره دروسانو په لارښوونه ډيره تخريب کاري کړي وه .

په نړۍ کښې . . .

دافغانستان دمجاهدينو دجهاد په نتيجه کي رامينځ ته شول او هغه ورځ ليري نده چي دنجيب حکومت په بشپړه توگه له مينځه ولاړشي او هلته يو اسلامي انقلاب رامينځ ته شي . هغه زياته کړه :امريکا او روس نه غواړي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړ شي خو هغوي او دهغوي نور پلويان به ونه شي کراي چي په افغانستان کي داسلامي حکومت دجوړيدو مخه ونيسي .

تشديد سياست . . .

بگزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي ازفرانسه صدها تن ازطرفداران حزب افراطي « جبهه ملي فرانسه » ضمن اعتراض به ايجاد يك مرکز اسلامي درحومه، شهر « نيور » فرانسه دست به تظاهرات زدند .

شرکت کنندگان دراين تظاهرات ضمن حمل پلاکاردها ، با تأسيس اين مرکز اسلامي مخالفت کرده و خواستار اخراج مسلمانان بنيادگرا شدند .

حزب جبهه ملي فرانسه به رهبري ژانماري لوپن « که جناح راستگراي افراطي خوانده ميشودمخالفت سرسخت حضورمهاجرين خارجي خصوصاً مسلمانان دراين کشورشدند .

بايد متذکرگرديد که مؤسسه اسلامي ياد شده درنوع خود براي نخستين بار در اروپا تأسيس شده وقراراست ازيازده ماه قوس امسال کار خودرا درمنطقه « بوتلين » درحومه شهري نيور « آغاز کند . ظهيرمحمد يك ناراضي عراقي و استاد سابق الکترونيك هسته اي دردانشگاه «فرانس کونته » فرانسه ، مسئوليت اداره، اين مؤسسه را به عهده دارد .

پتــــه :
پيښور - پاکســتان
P.O.BOX---- 467